دافغانستان او پښتو تاريخ ته لنډه کتنه: دپښتو شاعرانو، نومیالي څیري، دهغوي ژوند، لاسته راوړنو، اوکارنا مو په اړه لنډ معلومات




# بسم الله الرحمن الرحيم

## دافغانستان اوپښتو تاريخ ته لنډه کتنه

Ketabton.com

ليکوال او راټولونکي : محمد الیاس حمیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دهیواد ستراو نومیالې شخصیت احمدشاه بابا فرهنګی، ټولنیز ژوند، او لاسته راوړنې



(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد خان دزمان خان زوی او ددولت خان سدوزايي لمسی په(۱۷۲۲ز) زکال چې د( 1101 هجري لمريز سره برابر دی په هرات کی زیږیدلی دی. په پنځه ويشت کلنۍ کې دشیرسرخ زيارت په جرگه کی واک ته ورسيد. دغنمو وږی دکابلی صابر شاه له خوا چی يو ديندار شخص و دنوموړی په پټکی کې دشاهی سنبول په عنوان وتومبل شو. په دی توگه احمد شاه بابا واک ته ورسید. نوموړي له ټاکل کیدو څخه وروسته لاندې ټکي دموخو په توگه په پام درلودل:

1)دمرکزي قدرت بيا جوړول اويو والی.
2)دافغانستان دطبیعی پولو امن، چې له اموسیند څخه يې دسند او هند تر سینده پوری اوږدوالی درلود.احمد شاه بابا په ځينو کارونو لاس پوری کړ. هيواد ته يې له سياسی او اقتصادي اړخه یووالی وروباښه. دقبايلو ترمنځ اختلافونه يې له منځه یوړل. خلک يې وهڅول چی دهيواد په گټو او تاوانونوکی سره شريک شي.
چاروا کوته دمشهوری ورکولو لپاره يې دمشرانو دتلپاتی جرگې بنسټ کیښود.ددې پروگرامونودپلی کولو اوموخوته درسیدلو په موخه يې، دمذهبي ډلو ملاتړ په پام کی ونیوه. دخپل ټولنيزدريځ دټينگښت لپاره يې دخپینۍ داړيکو په ټيدگښت لاس پوري کړ.
احمدشاه بابا دښه استعداد په درلودلوسره په ټولو برخو کې زياروايست او ددولت دچاروډيرمخ بيولو په لاره کی ډیری ستونزی وگاللې.

**داحمد شاه بابا کارنامې**

احمدشاه بابا دمعاصر افغانستان دبنسټ ايښودونکی په توگه ددې خاوری په جوړښت او دقومونو ترمنځ ديووالي په رامنځته کولو کی بريالي شو.له همدی امله دځانگړي ځای درلودونه برخمن و.
نوموړی هغه پاچا وه چی تاج يې پرسر نه ايښوده،تشریفات يې نه خوښيدل پټکی يې تاړه او دځمکي پر مخ کښيناسته. هغه له خلکو سره نیغه اړيکه درلوړده. دسوله ييزه شخصیت په توگه يې دخلکو په شخړو کي پريکړې کولی. په ورين تندی يې کړکیچونه يې په سوله ييزډول حلول.احمدشاه بابا په سیاست کی دنرمښت پلوی و اوتل به يې دوستۍ له لاری چلند کا وه سره له دی چی دخاورې دپراخوالی هوډ يې درلود،له وينو تويولو نه يې ډډه کوله. دده دښو او نیکو اخلاقو له امله ورته بابا لقب ورکړل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## داحمد شاه بابا پوځی سوقیات

احمد شاه بابا کله چی واک ته ورسید، له هغه څخه وړاندې افغانستان دېردیو قواو په وسیله تجزیه او نیول شوی و. ځکه نو احمدشاه بابا دېخوانیو له لاسه تللو سیمودلاسته راوړلو اودطبعی سرحدونو دټاکلو لپاره یولړ سفرونه او پوځې سوقیات پیل کړل چی هریو یې جلا جلا ارزښت لری چی دهغو له جملې څخه اووم سفردپانیپت جګړه ذکرکوو.

## اووم سفر دپانیپت جګړه(1760_1761)زیږدیز

په ختیځ کی احمدشاه بابا دا سفر ددیراهمیت وړدی، ځکه په (1758) م کال کې په هند کی مهمی پیښې رامنځ ته شوی. لومړی دپنجاپ سیکانو پاڅون وکړ، وروسې مرهټیانو دهند مرکزې اوشمالی برخو ته داخل شول اودریم ته چی اسلامی حکمت چی مسلمانانو جوړ کړی و، له منځه لاړ. په هغه وخت کی چی احمدشاه بابا دنصیرخان بلوچ په ټکولومصروف و، دمرهټیانومشر(سندیا) مرکزی هند ته ورسید.راجپوتانو اوجټانو سره یې اتحاد وکړ او سندیا دپنجاپ لوری ته حرکت وکړ. ادینه بیګ هم ورسره یوځای شو اوپنجاب یې ونیو. شهزاده تیموراو سردارجهان خان پیښور ته شاتګ وکړ.
کله چی احمدشاه بابا له بلوچستان څخه داډمن شو ددیرش زره پوځیانو سره دبولان ددرې له لاری سند ته ورسید اوله شهزاد تیمور اوجهان خان سره یو ځای شو، دپنجاب لوری ته یې حرکت وکړ سندیا او غازی الدین چی څنګه د احمدشاه بابا له حرکت څخه خبر شول، له نجیب الدوله سره یې سوله وکړه اودډهلی لوری ته روان شول، په ډهلی کی یې دویم عالمګیر وواژه اوکړوسی یې پاچا کړ، په دغه وخت کی احمدشاه بابا له دری قواو سره مخامخ شو، لومړنی دسندیا قوا، دډهلی له لاری په اوړدو کې، دویمی قوې په(هولکر) پوری اړه درلوده جمنا په کیڼ لوری کې ځای پرځای وه او دریمه قوه د(جنګورا) او غازی الدین وه.

څنګه چی جګړه پیل شوه، درې ګونه قوا وی داحمدشاهي دځواک پروړاندی ماتی وخوړه، کله چی غازی الدین اوجنګورا دسندیا له ماتې خبر شول، ډهلی یې پریښود او وتښتېدل. دمرهټیانو مشر(بالاباجي) دمرهټه وټولو مشرانو ته خبرورکړ،چی نوی لښکر ترتیب کړی اوراجپوتانو به مرهټه و سره اتحاد وکړچی شمیر یې دوولکو ته رسیده  په داسی حال کی چی داحمدشاه بابا دپوځیانو شمیر شپیته زره و، دپانی پت په ډګر کې ډیره لویه جګړه ونښته افغانان فاتح او مخالفو ماتې وخوړه، احمدشاه بابا ډهلی ته داخل شو. دډهلی تخت یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهزادهعلی گوهر،سیاسی او اداری چاری یې شجاع الدوله او پوځی چاری يې نجيب الدوله ته وسپارلې او پخپله کندهار ته راستون شو.




(c) ketabton.com: The Digital Library



## د احمد شاه بابا فرهنګي او ټولنيزې کړنې

د دغي عاليقدر پښتون امپراطور په وخت کي ادب او فرهنګ ته هم کار شوی ؤ، په خپله احمد شاه بابا په معنوي لحاظ هم يوه وتلي څېره وه او دده د اشعارو ديوان دده پر معنوي څېره ستر شاهد دی، د تصوف او عرفان سره علاقمند ؤ، خو په شعر کې يې حماسي هم ځای لره، د تاريخي افتخاراتو د ساتني له پاره يې په (1754م) کال يې په کندهار کې د بيت الاشراف په نوم لومړنی موزيم جوړ کړو، همدارنګه د تاريخ له ثبت سره يې هم علاقه لرله، نو ځکه يې په درباري تشکېلاتو کې د دولتي مؤرخ له پاره يو مقام منځ ته راوړو او په (1757م) کال کې يې د دربار منشي محمود الحسيني په دغه دنده وټاکه او حسيني هم هغه مشهور تاريخ چې تاريخ احمد شاهي په نوم سره يادېږي، په دوه ټوکه کې وليکه او نور ډېر تاليفات دده په دوره کې رامنځ ته شو.





## د احمد شاه بابا مړينه

دا چې احمد شاه بابا د هند له سفر څخه راوګرځېد، ډېرو جنګونو او سفرونو ستړی کړی ؤ نو په لاره کې ناروغ شو، کله چې کندهار ته ورسېد، د ناروغۍ له امله ضعيف شوی ؤ او په (1773م) کال کې يې د درملني په خاطر مشهد ته سفر وکړو، خو کله چې افغانستان ته راستون شو، نو ډېر ضعيف شوی ؤ، په دې وخت کې يې يوه جرګه د رئيسانو او د دولت له مامورينو څخه جوړه کړه چې په نوموړې جرګه کې يې شهزاده تيمور خپل وليعهد وټاکه د جرګې غړو هم د احمد شاه بابا د نظر سره موافقت وښوده، بالاخره د احمد شاه بابا ناروغي سخته شوه او د طوبې د غره په لور ولاړ چې بالاخره هملته احمد شاه بابا د جمعي په شپه د رجب د مياشتي په شلمه د (51) کلنی په عمر سترګې له نړۍ پټې کړې او ډېر ژر دهغه د مرګ خبر په ټول افغانستان کې خپور شو، د هغه جسد مبارک يې د طوبې له غره څخه راوړو، د خرقې مبارکې تر څنګ يې خاورو ته وسپارلو، چې دده د مزار د ګنبدې ډېرليک دادی.

روح يې ښاد او جنت الفردوس يې ځای شه


(c) ketabton.com: The Digital Library



## ستراونومیالي شخصیت عبدالرحمان بابا

رحمان بابا د پیښور په هزار خانی کې دبهادر خان په یوه علم پرووره کورني کې نړۍ ته سترګي غړولي دي.
رحمان بابا دژوند او دزیږیدو دنیټي په هکله پوهان او محقیقین به یوه نظر نه دی خو مختلفو افکارو سره یعنی دپټې خزانې څخه ددی صوفي شاعر دژوند زمان زیږیدو نیټه د (1042) ه کال ښودلی دی خو ددی نظر سره قلندر مومند هم نظر نه دی او د هغه ژوند (1018) کال ښودلی دی.

په هر حال د رحمان بابا د ژوند زمانه دخوشحال ، ارزاني ، دولت لوانی ،میرزاخان انصاری سره ښودل شوي دي




اودهغوی هم عصره ګڼل شوی دی څکه ده پخپله په یو بیت کی ددغه شاعرانو ذکر کړی ده لکه چې وایي:

دمیرزا د ارزانی دعوه به پرې کا
قدر دان دشاعرانو رحمان راغی
یا په بل بیت کي وایي:

خوشحالان او دولتان مي غلامان دي
زه رحمان په پښتو ژبه عا لمګیر یم

خو د قلندر صاحب د نظر سره پو هان یو څه اختلاف څرګندوي او داسې وایې چې که رحمان بابا په (1018) کې زیږیدلی وی نو بیا یې ولي د دغو شاعرانو نه علاوه د مصری خان ګګیاني ،معذ والله خان ، کامکار خټک او ځینی نورو شاعرانو ذکر ندی کړي بل داچې اشرف خان هجري وایی چې رحمان بابا (1100) نه تر (1104) کلونو پوري یو پوخ اوسنجیده شاعر وه لکه چې وایې :

درحمان په ویل ځای د لقب نشته
چې یي ما شعر منظور کړ معتبر دی

درحمان بابا ژوند په اړوند خو دقلندر صاحب نظر دیوهانو لخوا زیات دتایید وړ ونه ګرځید لو او په اثبات باندې رسیدلي چې دقلندر نه مخکې زیږیدلي دی رحمان بابا دشخصیت په

(c) ketabton.com: The Digital Library



باب ویلي شو چې دی یو فقیر طبع ملنګ او صوفي شاعر وو دارايي يې نه درلوده بلکه يو غریب او درویش صفته انسان تیر شوی دی لکه چې پخپله وايي:

و




څوک راکاندي قسم په کردګار
که درهم لرم په کورکې یا دینار
زه درهم او دینارنه لرم په کور کې
ولې ټول خلک مي بولي دنياردار

او یا لکه چې وايي :
که زردار دزرداوانو اشنایان وي
د رحمان داشنایانو تکیه خدای دی

خو دی له یوی خوا غریب وو خو له
بلي خو ا هم یو خودداره انسان وه
وايي: هم په دا
چې نه له ځایه چیرته خوځم
نه د هیڅ دیوه مخلوق یم منت بار

رحمان بابا په خپل عمر کې خورا ښه اشعار ویلي دي او پښتو ادبیات پری غني کړې دي خو دده داشعارو ځینی موږ ته فقط یو دیوان را پاتي دی اودنورو اشعارو په باب يې احوال نه دی ورکړل شوې لکه څنګه چې دده دزیږیدو په باب اختلاف موجود وو همدا رنګه یې دمړینی په هکله یې هم نارستې لیکنې شوې دي.
دپټی خزانې مولف محمد هوتګ ابن داود د رحمان بابا دوفات کال (1118) ښودلي دی خوداسې ویل کیږي چې دا لیکنه به دقیقه نه وی رحمان بابا په خپلو اشعارو کې دشاه عالم یادونه کړی ده چې دا سړی (1119–1124) ژوندې وو لکه چې وايي:

اوس نوبت دشاه علم دی
دورتیر شو
خدازده څه بار ی شي پینبه
عا شور راشی که اختر

دعبدالرحمان بابا ددیوان په یوه سریزه کی لاکل شوی دی،چی عبدالرحمان بابا دپښتو دسجری نسبت له مخی (سړین ) په سړین کی(غوریاخیل) اوپه غوریاخیلو کی (مومند) په مومندو کی (**داودزی**) په دویزو کی ابراهیم خیل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم رحمان بابا په قوم مومند دی خو دی ځان کوم قوم ته نه منسوبه وی او ځان دخدای (ج) دپاکی مینی ریښتینی عاشق بولی اودخدای(ج) په مینه کی ډوب دی. او دتعصب اوځان ستاینی څخه کرکه لري اودوروولی، انسانی مناسباتو دنیوی او اوخروی نیکمرغیو لاری چاری خلکو ته ورپه ګوته کوي لکه چي وایي:

**زه عاشق یم سرو کار مي دی له عشقه نه خلیل نه داودزی اونه مومند یم**
او یا وایي:

**دادنیا خدای له عشقه پیداکړی دجملوو مخلوقاتو پلار دی دا**
او یا وایي:

**په هر دم کی نوې نوې تماشې کړم زه رحمان دخدای وکړه وته حیران یم**
او یا وایي:

**هیڅ تغیر او تبدیل نه لري رحمانه تل تر تله بر قرار دی رب زما**
او یا وایي:

**که محنت که مشقت دی خو ددین دی په کار نه دی بل محنت په دا دنیا**
**بی له خدایه هرچی دی همه فانی دی که لذت دی که زینت په دی دنیا**
او یا وایي:

**چی په ورځ دشیخئ لافی کړی رحمانه! په شپه می له میفروشه غواړې ولې؟**
او وایي:

**بد په بدو پښیماني کاندي رحمانه! ته په خپلو بدو نه شوي پښیمانه**
او یا وایي:

**دوست دشمن دسړی واړه خپل عمل دی هم په دا مقدار یي اجر موی په موی شی**

او یا وایي:

**داوبو اصل له خاورو پیدا کیږی خاکساران دخاکسارانو آبروی شي**
اویا وایي:

**دوباره دي راتله نشته په دنیا نن دی وخت دی که دروغ کړی که ربتیا**
اویا وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library




**دا دنیا ده بې وفا                    بې وفا ده په بقا**

اويا هم وايي:


**نور عالم که ددنیا غمونه کاندي               درحمان سره دې غم داخرت**

بل دا چې په خپلو اشعارو کې دګل خان او جمال خان ددور او واقعیو یادونه کړي ده چې تر (1123) پورې ژوند یقیني دی ددغی دلایلو دخرګندولو نه وروسته داثابیتیږي چې رحمان بابا ژوند تر (1128)پورې بښودل شوې دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



## ميرويس نيکه

ميرويس خان چې په حاجی ميرنيکه مشهورو دیوولسمی پيړی په وروستيوکي دنازوپه نامه له يوی مور څخه چې يوه ديناره ښځه وه وزيږيده. پلاريي شاه عالم خان دهوتکوقوم له مشرانواومور يي سلطان ملخي توخي لوروه چې دواړه قومي مشرانو څخه ګڼل کيږي. په راوروسته وختونوکي څه وخت چې ميرويس خان دجعفرخان سدوزی له لورسره واده وکړ، نو دنوموړي ټولنيزحيثيت يي نورهم لوړکړاوڅرنګه چې نوموړی يو نيک خويه،فصيح، مدبراوزړورسړی واوپه څنګ کی يی دسوداګری دنده هم پرمخ بيوله،نوځکه په ډيره اسانی سره يی وکولی شول چې دهغه وخت کندهار په خلکوکی ښه ځای ولری.

دهمدی خصوصياتواو صفاتو په لرلوسره د کندهارښاردکلانترپه توګه هم وټاکل شو. او په دي مقام کی دخلکو اودهغه وخت کندهار دحکومت تر منځ دواسطی په توګه يیی دنده تر سره کوله خوپه همدی حال کي يی هم دخلکوله ملاتړ څخه لاس وانه خيست اوپه هغه ليک کی چې دده لاسليک و دګرګين له زورزياتي څخه په کی شکايت شوی واوداصفهان دربارته وليږل شو داکار ددي لامل وګرزيدچې ميرويس خان داځل دګرګين له خواونيول شواولاس نيولی اصفهان ته وليږل شو.

ميرويس خان مخکی له دی هم اصفهان ته سفرونه کړی وو اودصفوي حکومت اودربارله وضعی سره بلد و له همدی کبله نوموړی وتوانيد چې نه يوازی ځان ته برائيت ورکړي بلکی دصفوی پاچا، سلطان حسين حضورته هم ورسيد او مکي ته دتللو اجازه يی هم تری واخيسته.

نوموړي په مکه معظمه کی له مذهبی عالمانو څخه د ګرچې ګرګين په وړاندی دپاڅون فتوا ترلاسه کړه.
له اصفهان څخه کندهار ته دميرويس خان له راګرزيدو سره سم داصفهان ددربار وضعه دګرګين په وړاندی بدله شوی وه ځکه داسی ګنګوسی اوريدل کيدی چې دروسی امپراطور پترکبير غواړي ارمنستان او ګرجستان له خپل هيواد سره ونښلوی اوداهم ويل کيدل چې ګرګين سره له خپلوعسکروغواړی دپترکبير سره يو ځای شی . دغه ګنګوسه ددي لامل وګرزيده چې ميرويس خان له ډيرواک سره کندهارته بيرته وګرزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوموړی داخل په کندهار کی په ډیری حوصلی سره دپردیو په وړاندی دپاڅون لاری برابری کړی. په ځانګړی توګه د(1121/1709ز)کال په پسرلی کی هغه وخت چی ګرجی لښکری د ګرګین دوراره الکساندرتر مشری لاندی دکندهارښاردارغستان او کاکړو دخپلو په نیت وتلی وی نو ډیره ښه زمینه مساعده شوه اوپه دی حال کی میرویس خان او نورقومی مشران دمانجی په نامه په یوه سیمه ییزه جرګه کی سره راټول شول اوله میرویس خان سره یی ګرګین اودصفوي دولت دیری ګرجی لښکری دکندهارښار ته دځلوییښتومیلوپه واټن پروت کلي(ده شیخ)کی غافلګیره او بیاووژلي.

الکساندر اوپوځونه یی هم چی دکاکړوله جګړی څخه راګرزیدلي وو،په ډیری سختی وتوانیدل چی له جګړی وتښتی او ګرشک ته ځان ورسوی.
په دی ترتیب دبایزید انصاری ترمشری لاندی دروښاني پاڅون، دخوشحال خان خټک ترمشرۍ لاندی دخټکوترپاڅون وروسته دکندهارپاڅون دخپلواکی ګټلوپه لاره کی دریم ګام ګڼلی شو. چی دکندهاردخلکو په ګډون ترسره شو چی زموږ په هیواد کی یی د خپلواکه دولت بنسټ کیښود.
دصفویانو له خوادکندهاردبیانولوپرله پسی هڅو،څه ګټه ونه کړه او میرویس خان، ملی قاید ترنامه لاندی اته کاله دکندهارواکی په لاس کی درلودي. میرویس خان نیکه په(1127/1715ز) کال کی مړ شو.

## میرعبدالعزیز

له میرویس نیکه وروسته دده ورور میر عبدالعزیزخان دکندهار حکومت مشری ترلاسه کړه خو نوموړی وورورسته له دوه کلونو حکومت دمیرویس خان نیکه دکړنلاری خلاف له صفوی حکومت سره دپخلاینی لاره خپله کړه.
دقومونو او قبیلومشرانو دنوموړی داکارخوښ نه شو اودمیرویس خان زوی میرمحمود يي دخپل کاکا وژلوته تشویق کړ اونوموړی وروسته له دی کاره په(1129/1727ز) کال کی دننګرهارپرتخت کیناست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خوشحال خان خټک

کله چي مغلو په هند کي پاچاهي کوله، د ملک شهباز په کور کي يو هلک پيدا شو ، په کال ۱۰۲۲ هجري . پر دې هلک يې خوشال نوم کیښود. خوشال د کوچنيوالي څخه زړه ور او هوښيار وو. کله به چي د پلار سره په مجلس کي ناست وو د مشرانو او خپل پلار خبروته به يې غوږ نيوه او په خبرو کي به يې ډير فکر کاوه. خوشال خان درې ورونه درلوده. خو تر ټولو ورونو دی هوښيار او پوه وو. خوشال له کوچنيوالي څخه ډير زړه ور معلوميده.

د خوشال پوهه او هوښياري ورځ په ورځ زياتيده، په شل کلني کي يې ډير کتابونه ولوستل او د زياتي پوهي خاوند سو. په شل کلني کي يې په شعر ويلو شروع وکړه. شعرونه يې د پښتونولی د احساساتو ډک دي. يوه ورځ ملک شهباز خان خوشال ته وويل، خوشاله زويه، که ته د خپل کام په مشرئ ومنل شی نو څه به وکړې؟ خوشال ورته وويل، تر څو ژوندی يم د قوم او اولس د هوساينې او د هیواد د لوړوالي د پاره به خدمت کوم. دا به زما د پاره د خوښی ځای وي چي زه خپل اولس ته خدمت وکړای شم.

کله چي خوشال خان د قوم د خوا په مشر ئ وټاکل شو د هند پاچا اورنګزيب ورته وويل ستا پلار زما په دربار کي ډير قدر لري. خو پام کوه چي پښتانه د مغلو په مقابل کي سر در څخه پورته نه کړي،خوشال خان دده خبرو ته غوږ و نه نیوه او پښتانه يې دمغلو مقابلی ته ودرول ،اورنګزيب چي دده له کاره خبر شو خوشال خان يې بندي کړ او د هند جيل ته يې وليګه. خوشال خان په هغه جيل کي د غيرته ډک شعرونه وليکل.

خوشال خان د ۷۸ کالو په عمر مړ سو. خو نوم يې تل ژوندی دئ.

د خوشال خان شعرونه خو ډيردي خو دلته به يې يو شعر ولولئ:

| | |
|---|---|
| چی بنايست لری په ستورو | داسمانندارہ ګوره |
| ددی خپل وجود په باغ کی | په هرشان ننداره ګوره |
| چی هر ګل ورته نظر کړی | دباغوان ننداره ګوره |
| راشه وغوړه سترګی | دجهان ننداره ګوره |

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال خان يو زړور او په پښتنو کلک مين سړی و،ده به تل هڅه کوله چی خپل قوم او پښتنو ته خدمت وکړی، خوشحال خان سره له دی چی يو زړور او دجنګ په ډګر کی غښتلی وه، يونامتو شاعر هم و چی ډير شعرونه يې په خپل نوم ثبت کړی دی .

لکه چی وايي:

زه خوشحال توره په لاس کفن په غاړه

که خبر شوم چې پښتون دچا غلام شو



(c) ketabton.com: The Digital Library



## د تیمورشاه پاچاهي (1773_1793 )زیږدیز:

تیمور شاه داحمد شاه بابا زوی په 1742 زیږدیز کال په مشهد کې زیږیدلی دی. هغه دزدهکړوخاوند او ددری ژبې شاعر و.
داحمدشاه بابا دمړینې پروخت کې یې دهرات دوالی په توګه دنده درلوده.
تیمور شاه څو داخلي او بهرني پاڅونونه په بریالی توب سره له منځه یووړل. تیمورشاه دخپلې پاچاهۍ په 20 کلنه موده کې وکړای شول چې هغه سیمی چې پلار یې ورته په میراث پاتې وې، وساتي.دهغه تر مرګ وروسته دهغه دزامنو بې اتفاقی ، دایران لاسوهنې او دروسانو او انګلیسانو سیالۍ دافغاني لویې امپراطورۍ دسقوط سبب شوې،تیمورشاه په 1793ز کال کې مړ او دکابل په چهارباغ کې خاوروته وسپارل شوړ.

## دامیر عبدالرحمن خان واکمني

دانګلیسانو له ماتی سره سم په 1880ز کال کی دانګلیسانو او امیر عبدالرحمن خان تر منځ لیکنی رالیکنیې او اړیکی پیل شوی. ددغو اړیکو په لړ کې دانګلیسانو له خوا دعبدالرحمن خان سلطنت په رسمی وپیژندل شو.

امیر عبدالرحمن خان کله چی دپاچاهي اعلان وکړ دانګریزانو تیریو پر افغانستان باندی ډیری ستونزی را منځته کړې وی،کابل خپل ارزښت له لاسه ورکړی و.
امیر عبدالرحمن خان دپوځی موخو تو دمرکزی دولت دغښتلتیا لپاره پیسو ته اړتیا درلوده. دلګښتونودپوره کولو یوه لاره هم دمالیاتو زیاتول وو، مالیات یې وضع کړل اوپه مستقیمه اونامستقیمه توګه یې ترلاسه کړل........

ددغې دوری دناخوالو پیښو څخه یوه هم دافغانستان دختیځ او سویلی پولو ټاکل دډیورنډ دکرښې په واسطه وه.
مارتیمرډیورردنډ په 1893ز کال دانګریزانو له خوا دیو پلاوی په مشرۍ دبریتانوی هند اوافغانستان تر منځ دپولو دټاکلو لپاره ټاکل شوی و، نوموړی دبریتانوی هند اوافغانستان ترمنځ پولو په خپله ګټه وټاکله او دسیاسی، پوځی او اقتصادی فشارونوله لاری دغه کرښه پر افغانستان وتپله.چی هیڅکله دافغانستاندخلکو له خوا دغه پوله منل شوی نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سلطان محمحد فاتح

داخل کله چې سلطان محمد خان په تخت کیناست نو عمر یی تر دوویشت کلنۍ پورې رسیده . دده نه مخته هغه دوه ځلې ، په داسې حال کې چې عمر یی یواځې څوارلس او پنځلس کاله و ، دخپل پالر په ژوند کې په تخت ناسته کړې وه . د سلطان مرادخان ثاني د مړیني سمدستي وروسته د سلطنت اراکینو هغه ته د سلطان دمړیني په اړه خبر ورکړ او هغه هم سمدالسه او پرته له ځنډه د کوچنۍ اسیا څخه د اورنه په لور را ستون شو . ځکه همدلته دهغه د تخت د کیناستو مراسم هم تر سره کیدونکي و . سلطان محمد خان د عثماني کورنۍ اوم ځوان سلطان و ، د عثماني سلطنت بنسټ ایښودونکي پخپله ) عثمان خان ( و چې د » غیاث الدین کیخسرو سلجوقي « زوم و . سلطان محمد خان د عثمان خان د شا څخه اووم نسل جوړیږي ، د عثماني سلطنت بنسټ د نن څخه نژدې یوسلودیرش کاله پخوا هغه وخت کیښول شو چې په (1300) عیسوی کال تاتاریانو په کوچنۍ اسیا یرغل وکړ او هلته یی سلجوقي واکمن ) سلطان عالؤ الدین ( اوبیا دهغه وروسته د هغه زوې غیاث الدین کیخسرو وواژه . غیاث الدین کوم زوې نه درلود ، یوازې یوه لور یی درلوده چې دعثمان خان په نکاح کې وه . په دې اساس د سلطنت اراکینو په یوه خوله او یوې راې سره عثمان خان د قونیا په تخت کیناوه او دخپل پادشاه په څیر یی و منود. په دې توګه د » اسرائیل بن سلجوق « د زوزاکه څخه ، چې په (1077)کې یی خپل نظام جوړ کړې و ، په (1300) عیسوي کال کې نظام والړ او اوپه ځاې یی د عثماني سلطنت جوړ کړل شو. او دې سلطنت تر (1915) عیسوي کاله پورې دوام وکړ .... دعثماني سلطنت څخه مخته د سلجوقیانو پادشاهي وه ، دهغوې نیکه اسرئیل بن سلجوق نومیده . دا هغه څوک و چې د سلطان محمود غزنوي په حکم د هندوستان کالنجر په عسکري کال کې اوه کاله بندي شوي و . دعثماني سلطنت بنسټ ایښوونکي عثمان خان د سلجوقي حکمران په وخت کې د انګورې په سیمه کې د « ارطغرال » په کورنۍ کې پیدا شوي و . دا دسلطان عالؤالدین سلجوقي د حکمرانۍ وخت و . هغه د ارطغرال دمیراني اوهمت د کتلو وروسته ، هغه ته د بازنطینی د سرحداتو جاګیر ور و سپاره . سلجوقي سلطان عالؤالدین د ارطغرال خان د احساناتو ممنون او مشکور هم و . سلطان محمد خانِ فاتح wپه حقیقت کې د سلطان محمد خان قبیله هم په لمړیو کې دهغو مهاجرو قبیلو څخه وه چې د چنګیز خان دحملو څخه یی خپل کلی کور او وطن پریښې و او په دشتو او غرونو کې یی سره تیندکونه وهل . دا قبیله د » ترکانو اوغوز« د قبایلو یوه یرخه وه . چې د عثمان خان نیکه دارطغرال خان پالر » سلیمان شاه« په مشرۍ کې خپل هیواد خراسان ) افغانستان ( پریښې و او په مختلفو هیوادونو کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرزيدو را ګرزيدو وروسته د شام( سوريى )په لور ور واړده شوي وو . دوي چې کله د فرات ددرياب څخه تيرشول نو سلطان محمد خان خراساني نيکه ( سليمان شاه) په هغه درياب کې ډوب شو او و مړ . دهغه د مړيني نه وروسته د دې قبيلي ډيره برخه خپره وره شوه ، خو کوم کسان چې پاته شول هغوې د ارطغران خان او دهغه د ورور< دوندارخان > سره يو ځآې د کوچنى اسيا په لور روان شول او هلته د سلطان عالؤالدين سلجوقي دسلطنت پولو ته ور ننوتل « . الرډ ايوسلي د ترکي ايمپاير « تر ليکني الندي ليکي چې : چنګيزخان خوارزم شاه له منځه وړې و . اودهغه ټول سلطنت يى دخپلو زامنو تر منځه وويشه . کله چې د خراسان دا ماتې خوړلي در په در شوې قبيله د سليمان شاه د ډوبيدو او مړيني وروسته د ارطغرال خان په مشرى د سلطان عالؤالدين سلجوقي سلطنت ته ور ننوته نو شميره يى څلورسوه او شل کورنو ته رسيده . ددغو څلوره سوه اوشلو کورنيو دغه ډله دسلطان عالؤالدين تر سيوري الندې دېنا اخستلو له پاره دقونيا د پايتخت په لور ور روان و چې په الره کې ارطغرال ته دوه فوځي ډلې په جنګ کې را ګير ځرګندي شوې . هغه يوه خوا هم نه پيژندله خو کله يى چې وکتل چې دهغوې يوه ډله د شميرې له اړخه کمه او بله ځواکمنه ده نو سمدالسه د خپلو ۴۴۴ ملګرو سره يو ځاې دهغه کمزورې ډلې خوا يى ونيوله او داسې زبردسته حمله يى وکړ چې دښمن يى تيښتې ته و هڅاوه . دښمن ميدان پريښود او خپلې پښې يى سپکې کړې . دفتحې نه وروسته هغه ته ډاګيزه شوه چې دهغې ډلې مرسته يى چې کړې ده هغوې د سلطان عالؤالدين سلجوقي د فوځ کسان و، او مقابل لورى يى تاتاريان وو . د ارطغرال ددې ميراني په بدل کې سلطان عالوالدين سلجوقي هغه ته د دسفوت زرخيزه سيمه چې د سقاريه ددرياب په ښې لورې د بازنطيني ( قسطنطنوي) پولو سره نښتې وه ، ورکړه ، تر څنګ يى ورته سفوت ښار هم ور باښه . ارطغرال اودهغه ملګري چې د خراسان او ارمينيا څخه راغلي و ټول همدلته ميشت شول . سلطان عالوالدين سلجوقي ارطغرال خان ته په دې سيمه کې دخپلو فوځونو د ساتلو اجازه هم ورکړه . او ترڅنګ يى ورته د بازنيطيني عسکرى کالو عسکرو ته د درس ورکولو حکم هم وکړ. دبازنطيني سلطنت مرکز قسطنطنيه وه. عالوالدين سلجوقي چې کوم خراساني ځوان ارطغرال ته په بازنطيني باندې دحملو کولو وينا کړې وه نو نژدې يونيم سل کاله وروسته دهمغه شخص د زوزاکه څخه سلطان محمد فاتح پيدا شو چې بالخره يى بازنطيني سلطنت ) قسطنطنيه ( فتحه کړه او د عيسويت د نړۍ ديوالونه يى سره ولړزول سلطان محمد خانِ فاتح ارطغرال خان په (1288) کال کې د (90) کالو په عمر له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې . هغه په خپل ټول ژوند کې د سلطان عالوالدين د ځآنګړې پاملرنې الندې و . ان تر دې چې داسې وخت هم راغې چې ارطغران د سلطان عالوالدين د نائب په څير د تاتاريانو او بازنطينانو ګډ فوځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ماتې ورکړه . ددې په بدل کې ورته سلطان عالوالدین سلجوقي د » بني شهر او بروصه شهر « سیمي هم ورحواله کړی . او د ارطغرال د جاګیر د نوم یې « سلطانوي « کېښود او هغه یې دخپلو فوځونو سپه ساالر و ټاکه . هاالل ، دسلطان عالوالدین سلجوقي د بیرغ نښه وه ...... د ارطغرال خان د مړیني وروسته دهغه ستر زوې عثمان خان دهغه ځاې ناستې و ټاکل شو . همدا د عثماني سلطنت بنسټ اېښوونکي او ددې سلطنت لمړی تاجدارهم و . دهغه پالر په خپل ټول ژوند کې د سلجوقي سلطنت سره تلپاتې وفاداري درلوده . سلطان هم د خپل پالر په قدم قدم کېښود او همغسې تګالره یې خپله کړه . خو دا داسې وخت و چې سلجوقي سلطنت خپله اخري ساه اخسته اوپه کوچنۍ اسیا کې ملوک الطوایفي حاکمه شوي وه. عثمانیان یواځې دبازنطیني دښمنانو په مقابل کې جنګېدل اویا په بله ژبه ، عثمانیان یواځې د عیسویانو پر خالف په جنګ رانښتي و . په دې وختو کې د قسطنطنیې پادشاه د خپلو درو ساتنه و نه شوه کړاې او عثماني فوځونه دهغه ( دتهینیا) میدانو ته ور ننوتل . بازنطیني سلطنت چې درسول اهلل صلی اهلل علیه وسلم په وختو کې د ځواکمنو سلطنتونو څخه و د عثمان په وخت کې د زوال سره مخ شوی و . هلته دخپل منځې جګړو او حکومتي بدنظمیو عثماني فوځونو ته موقع اوفرصت برابر کړې و چې هغوې دې د بازنطیني سلطنت په ډېرو برخو باندې ولکه وکړي . ددې نه مخته داسې یو وخت و چې بازنطیني سلطنت ان د کوچنۍ اسیا تر پولو پورې را غوځېدلې و . خو اوس په کوچنۍ اسیا کې د بازنطین سره یواځې » نائیسیا او نائیکومیډیا« سیمي اودهغې شاوخوا کلي پاته شوي و . د بازنطیني سیمو په لور د عثمان د توجه علت دهغه داسالم د تبلیغ کول و . په هر صورت عثمان د اسالمي فوځونو له پاره داروپا دروازې پرانستي او د دانیال دروازې پرانستل د عثماني نسل له پاره یوه لوبه وګرزیده . عثمان د سلجوقي سلطان د فرمانبردارۍ په اساس ستري ستري معرکې سر کړي دي چې ددې ډلې څخه د » قراجه حصار « معرکه تر ټولو مشهوره ده . ددې کال د فتحه کولو په واسطه مسلمانانو اروپایانو ته خبر ورکړ چې نور نو دهغوې د حکومت دوران مخ په ختمیدو دې . سلطان عالوالدین سلجوقي خپل میړنې سپه ساالر عثمان ته د» نیزبیګ« خطاب ورکړ او هغه ته یې په خپل نوم دسکې د جاری کولو او په خپل نوم د خطبې د ویلو اجازه هم ورکړه . په دې توګه عثمان ته د شاهي لقب تر څنګ دپادشاهۍ نور ټول امتیازات هم ور په برخه شول . اوبیا لږ څه پاته کمښت هم په راتلونکو کلونوکې له منځه والړ . او دا هغه وخت و چې عثمان دسلطان عالوالدین سلجوقي او دهغه د زوې دېرلیسې مړیني وروسته او ازاد او خپلواکه تاجدار په توګه را څرګند شو سلطان محمد خانِ فاتح د سلجوقي کورنۍ د حکومت د پاې ته درسیدو سره سم د ال عثمان حکومت پیل شو . خو یو شمیر سلجوقي امیرانو لکه ( دکرمانیا امیر)عثمان ته په ډېره کرکه او حسادت سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتل ، او هغه یی خپل رقیب ګانه . همدا علت و چې لږه موده وروسته د عثمان او د کرمانیا دامیر تر منځه د جنګونو یوه نه پاې ته رسیدونکې لړۍ و نښته . اودا لړۍ د هغوې د پرلپسې ناستځایو تر منځه هم همغسې جریان پیدا کړ . عثمان داسالمی حکومت بنسټ کیښود او په (1301) کال یی د » ټایئکومیډیا« سره رانښتې د »قیون حصار« کال کې په لمړني ځل د قسطنطنیا دشاهنشاهي فوځ سره مقابله وکړه او په دې مقابله کې ورته ډیره ستره بریا تر السه شوه . او تر شپږو کالو پورې یی د فتوحاتو لړۍ تر » بحراسود« پورې و غځیده . هغه په خپل ژوند کې په درې محاذونو کې په یوه وخت فتوحات تر السه کول ، ..لمړی .... دباغي سلجوقي امرانو پر خالف .... بل ...د تاتاریانو پر خالف . .. دریم .... دبازنطیني فوځونو یعنې د قسطنطنیی د پادشاه پر خالف.... په (1307) عیسوي کال کې عثمانیانو دبروصې ښار کالبند کړ، دا ښار په قسطنطنیه کې د کوچنی اسیا په نامه یادیده . دا د نړۍ تر ټولو اوږده کالبندي وه چې تر لسو کالو یی دوام وکړ. بالخره په (1326) عیسوي کال کې کالبندو فوځونو خپلې وسلې کیښودې او دعثمان خان زوې اولخان د فاتح په څیر دې کالته ورننوت ، په دې وختو کې عثمان خان په »سفوف« کې د مرګ په بستره باندې پروت و ، خو دهغه د مړینی څخه مخته د هغه زوې اولخان هغه ته د دې سوبې خبر ور ورساوه . همغه و چې عثمان خان هغه خپل ځاې ناستې و ټاکه او حکم یی وکړ چې دمړیني وروسته یی په بروصه کې خاورو ته وسپارې. تر څنګ یی حکم وکړ چې بروصه د عثماني سلطنت له پاره پایتخت وګرځوې . هغه دهغه د وصیت په مطابق همله په بروصه کې خاورو ته وسپارل شو . د»عثماني دولت « تر نامه الندی تاریخ لیکي چې :عثمان خان د عثمانیه دولت لمړۍ تاجدار و . هغه هیڅکله هم دخپل ځان له پاره دسلطان کلیمه نه استعمالوله . دهغه زوې اولخان او لمسي ) مراد اول ( هم دخپلو ځانو له پاره د امیر کلیمه استعمالوله .د عثمانیه سلطنت د بنسټ ایښودونکي عثمان واده هم په ډیره په زړه پورې توګه تر سره شوې و . هلته د ښار سره نژدې د »ابتروني « په سیمه کې یو خداې پالي عالم او درویش صفته انسان » اوبالي »نومي اوسیده ، عثمان به دخپلې ځوانی په وخت کې هلته ډیر ورته ، هغه یوه ډیره ښایسته اوحسینه لور درلوده چې ( مال خاتون ) نومیده . یوه ورځ په ناڅاپی توګه د عثمان سترګې په دغه پیغله و نښتې ، او دکتلو سره سم پرې عاشق شو. هغه سمدالسه د نکاح پیغام ور ولیږه خو » اوه بالي « د یوه درویش او د سلطنت د امیر تر منځ د توپیر په پوهیدو باندې دا پیغام ونه مانه . ان تر دوو کالو پورې د عشق او محبت دا لړۍ روانه وه ، عثمان هم د اوه بالي کور ته تګ راتګ ته دوام ورکړ . په دې وخت کې څو نورو ترک سردارانو هم چې په ځواک او شهرت کې د عثمان څخه کم نه و د مال خاتون سره د واده کولو هیله څرګنده کړه . خو اوه بالي هغوې ته هم ځواب ورکړ . بالخره داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ را غله چې عثمان هملته د » اوه بالي « په کور کې پاته شوې و یو عجیب او غریب خوب یی وکوت . » ویی کتل چې یوه سپوږمۍ د اوه بالي دسیني څخه را ووزي او کرار کرار ترې د څوارلسمي سلطان محمد خانِ فاتح سپوږمۍ جوړه شي او بیا د عثمان په سیني کې ور ننوځي ، بیا دهغه اړخه یوه ځواکمنه ونه راشنه شي چې همداسې پسې ستریږي ، ان تردې چې ددې ونې شاخونه د وچې او لمدې ټول ځایونه را و نغاړي ، د ونی د جرړو څخه د نړۍ څلور ستر دریابونه دجله ، فرات ، نیل او ډینوب را بهیږي او څلور ستر غرونه ، کوه قاف ، د بلقان غر ، دتور غر ، او د اتلس غر ددې شاخونه سنبالوي . په دې وخت کې یوه تیزه هوا راپیدا شی اودهغې ونی د پاڼو مخ چې په شکل کې تورې ته ورتوالي لري د یوه ستر ښار لورې ته وګرځوي ، دا ښار ددوو سمندرونو او ددوو لویو وچو د رایوځاې کیدو په نقطه کې پروت دې ، او د یوې ګوتې په څیر را څرګندیږي . پدې ګوته کې دوه زمرد او دوه نیلم ځاې په ځاې شوي دي، عثمان غوښتل دا ګوته په ګوته کړي چې یو ناڅاپه ګوته سره را خالصه شوه«...... د بیداریدو وروسته یی خپل خوب اوه بالي ته بیان کړ ، اوبالي په دې خوب کې د عثمان له پاره ښه راتلونکې وکوت اوهغه یی یوه غیبي اشاره و ګڼله او دخپلې لور » مال خاتون « نکاح یی ورسره وکړه . د عثمان همدغه خوب چې هغه نژدې یونیم سل کاله مخته لیدلي و د هغه د کړوسي سلطان محمد له اړخه پوره کیدونکې و . ددوسمندرونو او ددوو لویو وچو د رایوځاې کیدو نقطه د قسطنطنیی ښار و ، د سلطان محمدخان پلرونو او نیکونو کې د عثمان خان یو زوې » اورخان « هم د یوه فاتح او بهادر پادشاه په نوم یادیږي، دا عثماني سلطنت دویم تاجدار او د عثمان خان تر ټولو کوچني زوې و . دهغه مشر ورور عالوالدین داسالمي علومو شوقی و تر څنګ یی د تصوف اوفلسفې سره هم ډیره مینه درلوده ، هغه ډیره پوه او مدبر انسان و ، د زمکې پرمخ تر ټولو لمړۍ منظم ، په دریشۍ سنبال ، تنخوا لرونکې او په فوځي ځایو کې اوسیدونکې فوځ » یني چري « دهمغې په سال او مشورې سره جوړ کړل شو . دهغه سره په دې مشوره کې » قراخلیل « هم شریک و . ددې نه مخته په نړۍ کې فوځونه منظمیدل او په ځانګړیو کالیو هم سنبالیدل، خو دا کار به یواځې او یواځې د جنګ په ورځو کې تر سره کیده . د رومیانو او یونانیانو په سلطنتونو کې هم همدا ډول رواج و . دسیدنا عمر رضی اهلل عنه په وخت کې د عسکرو له پاره تنخوا ګانې ټاکلې شوې وې او د رخصتیو رواج هم دهمغه له وخته پیل شوې و، خو په هغو وختو کې د فوځي بارکونو او یاد تلپاتې عسکري تمځایونو آند له چا سره نه و . په دې اساس دا کار تر ټولو لمړۍ اورخان د خپل مشر ورور عالوالدین او خپل دوست قرا خلیل په سال سره تر سره کړ . هغه ټول هغه ځوان عیسوي بندیان چې په مختلفو

(c) ketabton.com: The Digital Library




جنګونو کې يې نيولی و د روزنې له پاره همدې ډول روزنځايو کې واچول او يو باقاعده فوځ يې ترې د » ينې چري « په نامه جوړ کړ.

دسلطان محمد فاتح دوران په (1481) کال کی پای ته ورسيد. د (1451)نه تر (1481) پوری ،په ديرشو کالو کی سلطان محمد فاتح په قسطنطنيه باندی حکومت وکړ. د سلطان په وخت کی اسالمی حکومت د اروپا تر لری لری ځايو پوری و غځيد .دسلطان فاتح نه وروسته عثماني حکمران » سليمان اعظم قانونی « ( 1550نه تر 1566 ) پوری ډير شهرت وموند .مشهور امير البحر ) خيرالدين باربروسا( دهمدی سلطان په وخت کی مشهور شو ، دخادم الحرمين االشريفين لمړنی لقب تر ټولو دمخه » بايزيد« خپل کړی و . خوپه عثمانی حکمرانانو کی د خالفت منصب تر ټولو دمخه (لمړی سليم عثمانی ) ته ورکړل شوی و . اخری عباسی خليفه » المتوکل « و چی په قاهره کی يی د سالطين مملوک تر سيوری اللدی ظاهری شان وشوکت درلود خو په حقيقت کی دواکمنۍ څخه بی برخی وو ..... دخالفت پګړۍ (اول سليم عثمانی ) ته په سر ايښوول شوی وه . دمقدسو مقاماتو کنجګانی ، د انحضرت صلی اهلل عليه وسلم مبارکه توره ، علم او څادر د خالفت دسند په توګه » سليم « ته ورکړل شوی و . دهمدی وروسته د عثمانی خلفاؤ نومونه په خطبه کی اخستل کيدل . عثماني سلطنت نزدی شپږ سوه کاله دوام وکړ او د عثمانی خالفت اخری بدنصيبه خليفه » سلطان عبدالحميدخان ثانی « و ، چی حکومت يی د لمړۍ عمومي جنګ پا پايلو کی له منځه والړ . دغه خليفه په (1918) کال د نظربندۍ په دوران کی ساه ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library





(دنیکمرغه او سوکاله افغانستان په هیله)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**